مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پیرمحمد کاروان

۲۰۲۶/۰۵/۱۹

# بیا راته وایه چی دروغ وایې، کاروان خو نه یی

په زړه مې ولې راوریږې، څه باران خو نه یې
هسې مې درد راوینوې، زما درمان خو نه یې
د مخ په پاڼه به دې څه خوږه غزله لیک وي
سپینه کتابه یا دوم دې، دومره ګران خو نه یې
د خیال هد هد دې راته ډېر ډېر پیغامونه راوړي
دا مې خطا وه چې ویل مې، سلیمان خو نه یې
ما به بې وخته لېونی کړې، په اغزو به ګرځم
غیر به رانه کړې ښکلیه باغه، بیابان خو نه یې
د ژوند د وچ ساحل په مخ مې لمدې شوندې نه ږدې
شنه سمندره زه دې څه کړمه، توپان خو نه یې
د نور په غشو مې له هسک نه په لېمو کې وولې
نه راځې ستورې د اسمان شوې، مهربان خو نه یې
ښکلیه سالار که مې د عشق د منزلونو نه کړې
بیا راته وایه چې دروغ وایې، کاروان خو نه یې

پیرمحمد کاروان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ